کله به چې (د رمضان د میاشتې وروستۍ) لسیزه داخل شوه نو شپه به یې ژنا کړه او خپله کورنۍ به یې (د شپې) راویښه کړه او (د عبادت لپاره به یې) ملابند کلک کړ

له ام المؤمنین عائشې - رضي الله عنها - څخه روایت دی وایي چې: کله به چې (د رمضان د میاشتې وروستۍ) لسیزه داخل شوه نو شپه به یې ژنا کړه او خپله کورنۍ به یې (د شپې) راویښه کړه او (د عبادت لپاره به یې) ملابند کلک کړ.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

نبي صلی الله علیه وسلم به چې کله د رمضان وروستۍ لس ورځې داخلې شوې، نو ټوله شپه به یې په ډول ډول عبادتونو سره تېروله، خپله کورنۍ به یې د لمانځه لپاره راویښوله، او په عبادت کې به یې له معمول څخه زیات کوښښ کاوه، ځان به یې عبادت ته وزګار کړ، او له خپلو مېرمنو به یې ځان ګوښه کاوه.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4944